مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۱/۰۵

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو یواتیایمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لوډویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

۱ کابلی روپی	=	۲ غیرانه	=	۳ ټنګي
		۱ بخارایي تیله	=	۲۰ ټنګي

د دغو ارقامو سمولوالی په هر حال سره نه سي تضمینیدلای خو یوازې دومره ویلای سو چې هره هغه شمیره چې له سنجونو وروسته سمون ومومي موږ ته هماغه شمیره نسبتاً ډاډمنه ښکاره سوي ده.

د قاعدې له مخې د ترلاسه کیدونکي بهوسي اندازه د غنمو او اوړو د دواړو په اندازې ده، ښایي له دې یو څه لږ وي. د دې ولسوالی په ډیریو برخو کې ډیر ښـۀ وابښـۀ سته او د دې سیمې په لوړو برخو کې ان د کال تر پایه موندل کیږي. د ترکاري بابو په کافي اندازې په ځانګړې توګه د ګازرو شتون دلته سته دی. همدا شان د پام وړ رشقه هم سته.

په دې ولسوالی کې ډیر اوښان نـۀ سته؛ یوازې له شیرین تګاو څخه یو څو اوښان تر لاسه کیدای سي او همدا شان له عرب کوچیانو څخه او هم د درې له نورو خلکو څخه تر لاسه کیدای سي. د دې سیمې د عادي ترانسپورت وسیله غوایان دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پیسي، اوزان او د اندازه کولو مقیاسونه. راکړه ورکړه په ټنګو او د بخارا په تیله کیږي خو هراتي غیرانونه او کابلی روپۍ هغه مسکوکات دي چې ډیر کارول کیږي.

یوه برتانوی روپۍ په ۲/۱ ۲ غیرانو منل کیږي. د سرو زرو ۵ روسي روبله په ۱۰ کابلیو روپیو یا ۲۰ غیرانو د تبادلې نرخ دی.

د میمني د اندازه کولو مقیاس اوږد دی چې قلاچ بلل کیږي او دا ۶ فیټه دی او یو گز ۴۰ انچه دی. گز په څلورو چارکو ویشل سوی او هر چارک دې ۱۰ انچه دی. (دې لسوې)

ځمکه تقریباً هر ځای کې په طناب یا جریب اندازه کیږي چې ۷۰ گز یا۶۰ قلاچ مربع کیږي؛ حال دا چې یو قلبه ځمکه ۷۰ طنابه منل سوې ده. که دا ډول شمیره په میمنه کې په همدومروالي سره دود وي او د گز اندازه ئـې سمه ویل سوي وي نو د طناب دومره لویوالی او په پای کې د هرې قلبې ځمکه اندازه به د معمول له اندازې ډیره لویه کړي.

خو دې لسوې وایي چې د اندازه کولو مقیاس له یوې علاقې تر بلې ډیر توپیر لري.

او همداسې اوزان. دې لسوې وایي چې د المار وزن او د میمني وزن هغه اوزان دي چې عمدتاً ډیر معمول دي د المار وزن د میمني په لویدیځ کې او د میمني وزن د میمني په ختیځ کې کارو کیږي.
ښایي د میمني اوزان د سرپل په ډیریو برخو کې هم وکارول سي.

د المار اوزان				
۱ خورد	=	۲/۱ ۱۲ اونسه		
۴ خورد	=	۱ نیم چک یا ۱ چارک	=	۳ پاوه او ۲ اونسه
۴ نیم چک	=	۱ من	=	۲/۱ ۱۲ پاوه
۴ من	=	۱ سیر	=	۵۰ پاوه (۲۵ هندي سیر)
د میمني اوزان				
۱ پُن*	=	۲/۱ ۱ پاوه		
۴ پُن	=	۱ نیم چک یا ۱ چارک	=	۶ پاوه
۱۶ نیم چک	=	۱ سیر	=	۹۵ پاوه
۸۰ سیر	=	۱ بتمن**	=	۷۶۸۰ پاوه (۹۶ هندي مونده)
*pun ما ژباړونکي د دغه لغت معنی ونه موندله				
** batman ما ژباړونکي د دغه لغت معنی ونه موندله				

مهم یاد داشت: د بندر کوچنی خان نشین په میمني اړه لري او شرحه ئـې تر خپل نامـۀ لاندې راغلې ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نور بیا

میمنه:

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ